سمیع الدین افغاني ۲۰۱۲/۰۱/۱۱

# د غرض لاسونه

دا یو څرګند حقیقت دی په کومه ټولنه کې چې نفاق او تربګنی وي طبعي ده چې د خلکو د بد بختیو اصلي عامل همدا تربګنی اوچرته چې یوالی او ورورګلوي وي هلته کامیابي او سعادت خدای پاک د خلکو نصیب ګرزوي چې دا اصل د کورنۍ نه راوخله بیا تر کلي کور، ولسونو، هیواد او د بشریت په کچه د منلو وړ خبره ده.
خو کله کله د ځینو بشري ټولنو یوالی داسي کیدای شي چې د نورو په ګټه یا تاوان وي هغه داسي چې ډیری تیري کوونکي سیاستوال دخپلو خلکو په یووالي سره د نورو حقوق تر پښو لاندې کړي او د نور انسانانو حقوق یې غصب او د هغوی هستي او شتمنۍ یې تباه او د هغه خلکو حیثث ته یې په سپکه کتلي چې د نړی استعمارګره سیاستونه ددې مثال ژوندی بیلګی دي.

اوس که راشو او د خپلې ټولني او خلکو تاریخ ته ځیر شو نو دا به ټولو ته معلومه وي چې د تاریخ په اوږدو کې د دغسي اشغالګریو او په وطن کې د ځان ځانی او تر بګنیو په نتیجه کې دا وطن همیشه د اشغال د مستقیم او غیر مستقیم ډول د منافع د خوندي ساتلو میدان ګرزیدلی او زموږ د خلکو سره داسي جفا وې تر سره شوي چې د نورو ټولنو په تاریخ کې به داسي ناروا وې کمي تر سترګو شوې وي.
دا یوه طبیعي خبره ده چې زموږ هیواد په اوسنی حساسه تاریخي مرحله کې زموږ د خلکو یووالی او پیوستون ته اړین ضرورت لري او موږ داسي حرکت او یوه لیډر ته اړتیا لرو چې د وطن خلک او پرګني کوم چې پدې څو لسیزو کي په مختلفو ډلو تظیمونو او پارتیو تقسیم کړل شوي د ملي مصلحت تر شعار لاندې سره یو کړي تر څو وکولای شو د دې ناخوالود له مینځه وړلو لپار عملي ګامونه اوچت کړو.

اوس اوس ددې ترڅنګ چې دیرش کلني جګړې ددې خلکو نه هرڅه تباه کړي خو د خلکو سیاسي پوهاوی واقعاً د احسا س وړ دی، اوس د افغانستان خلک پدې پوهیږي چې یواځې د ولسونو یووالی دی چې کولای شي مشکلات حل او په وطن کي د ورورګلوي او ترقي اساس کیښودل شي. په ډیر خواشنی سره باید وویل شي چې یو شمیر اجنبي افغان نما مصنوعي لیډران چې همدا اوس هم په ډیر هوښیاری زموږ په وطن کي د تجزیې پلانونه طرح او په ډیره سپین سترګی د پردو په اشاره ، مادی او معنوی ملاتړ نورهم دې تراژیدیو ته دوام ورکوي او دوی هغه خلک دي چې تر پرونه پوری یې د افغان ولس د یو واحد وطن د تجزیي خوبونه لیدل او اوس ظاهراً د افغانیت چیغې وهي او غواړي چې د افغانیت تر نامه د افغانانو حاکمیت او سرنوشت تر سوال لاندی راولي.

دا یو څرګند حقیقت دی کله چې زموږ په هیواد کې د ډیموکراسي ناری سوری پورته شوې، دې مغرضو سیاستوالو د موقع څخه ګټه پورته کړه او د خپل قدرت او منافعو د خوندي ساتلو په مقصد د هرچا سره د معاملو تړونونه لاسلیک کړل. شواهد داسي ښکاره کوي چې حتی داسي معاملې هم رواني دي چې د ډیورن ګرغیرني کرښې د رسمیت پیژندلو ته هم لاس اچوي. همدغه کړیو بیا د روسي سره د پخواني شوروی د جنګی جنایتونو د غراماتو د ښنولو تیاري ښودلي او کله بیا د خپلو ځاني ګټو د ساتلو په مقصد د ایران او . . . له ګریبانه سر را پورته کړي او د لوی خراسان او دهغوی د نورو شومو پلانو د تطبیق لپاره په میلیونو دالر او نورو امتیازات تر لاسه او د خپل د انتخاباتو په ناکام کمپاین کې په ډیر سخاوت مندانه او آزاد لاس مصرف کړل.

زموږ هیوادوال شاید دې ټکي ته توجه کړې وي چې یو شمیر مغرزه سیاست وال غواړي زموږ هیواد نه د مختلفو پوچو سیاستونو د تطبیق لابراتوار وګرزوي او غواړي چې پدې وطن کې پداسي شرایطو کې چې باید ددې وطن د بچیانو او د ټولو قومونو او پرګنو د یووالی لارې چارې ولټول شي بلکه داسي شعارونو لپاره کار کوي چې په وطن کې د بې باوریو او اختلافاتو ته نورهم لمن ووهي ترڅو پدې ملک کې د سولې او وروری فضا همداسي کمرنګه وساتي.

داسي نا جایزه کړه وړه څه تصادفي خبرې ندي بلکه دا هغه منظم پلانو نه دې کوم چې د پردو په اشاره غواړي چې د خپلو تشکیل شوو کړیو له لارې زموږ هیواد د بې ثباتی او تجزیی سره مواجه کړي.

د افغاستان په اوسني شراطو کې د فدرالیزم سیستم یواځې او یواځې زموږ هیواد د بې ثباتۍ او تجزې په لور بیول دي چې دوې خپله پدې خبره ښه پوهیږي او غواړي چې دا هیواد تجزیه او د افغانستان په نامه یو تاریخی ملک جغرافیوی شتون له مینځه بوځی چې دوی به دا خپل شوم ارمان له ځانه سره ګورته ویسي. زمږ د هیواد د تکړه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شاعر یوه ریښتني او د افغانانو د زړه خبر کوي وایي :

**تا یک نفر افغان است**
**زنــده افغانستان است**

په هر صورت په لس هاو دلایل شته چې فدرالیزم په اوسنیو شرایطو کې هغه طرحه شوې دسیسه ده کوم چې یو شمیر لاسپوڅی غواړي دا وطن نور هم د خود سریو میدان وګرزوي او دوی پکې زیات مادي او معنوی امتیازات تر لاسه کړي.

زما په اند او نظر د وطن د هر اصیل بچي دا ملي او وطني دنده ده چې دوطن ملي مصالحو ته په پام کې نیولو سره د داسې غیر مسؤولانه اهدافو په مقابل کې خپله وطني او ایماني مسؤلیتونه تر سره کړي او اجازه ور نکړي چې د وطن دښمنان زموږ د پرګنو او ولسونو ملي یووالی زیانمن او د غرض لاسونه نور هم زموږ د بې ګناه ولسونو او خلکو په وینو سره او هره ورځ په وطن کې د افغان وژنې سلسله او تراژیدیوته دوام ورکړي.

ومن الله التوفیق

په وطن کې د سولې او ورورګلوی په هیله.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ